**د سیاسي ایتلافونو گرم بازار او د امریکا پالیسي**



د دوه سري ملي وحدت حکومت د تشکیل له وخته تر اوسه د ایتلافونو، اتحادونو او سیاسي محورونو بازار گرم دی او د حالت نازکوالي، د مشروعیت د نشت بحران، سیاسي ماتې او د ولسمشر په واسطه د قدرت انحصار پر بنسټ ډېر ایتلافونه رامنځته شوي دي. دغه ایتلافونه په مختلفو بڼو، شعارونو او موخو راڅرگند شوي دي.

«**د حراست او ثبات شورا**» د استاد سیاف په رهبرۍ دوه کاله وړاندې د نظام د سمون په موخه تاسیس شوه. «**د افغانستان نوې ملي جبهې**» ایتلاف د انوارالحق احدي په رهبرۍ پر دولت د نیوکې تر څنگ له دولت څخه د ژر تر ژره ولسمشریزو ټاکنو غوښتونه کوي. «**د افغانستان ملي جهادي شورا**» د صبغت الله مجددي په رهبرۍ په انحرافاتو کې د د دولت د محاسبې او په لاسته راوړنو کې یې د هڅونې په موخه جوړه شوه. «**د افغانستان ژغورنې لپاره د ایتلاف عالی شورا**» د عطانور، جنرال دوستم، حاجي محقق او صلاح الدین رباني په رهبرۍ د قدرت انحصار، د نظام تیت پرک کېدو او سیاسي بې نظمي له امله جوړه شوې ده. د «**افغانستان د خلکو محور**» د کرزي د دولت له څېرو تشکیل شوی، اساسي قانون او سیاسي مشروعیت ته بیرته تگ په شعار یې د شتون اعلان وکړ. د «**ختیځ اتحاد**» د میرویس یاسیني او ظاهر قدیر په رهبرۍ د اصلاحاتو راوړلو او ختیځو ولایتونو ته د دولت د پاملرنې په موخه د موجودیت اعلان وکړ. «**د ملي اجماع ایتلاف**» د ابراهیم الکوزي په رهبرۍ له ملي وحدت حکومت څخه د ملاتړ په موخه صحنې ته دننه شوه او وایي چې هېڅا ته د نظام د نسکورولو اجازه نه ورکوي. ویل کېږي چې په نېږدې ورځو کې نور ایتلافونه

هم په لاره دي، چې ډگر ته راودانگي. د دې تر څنگ نور واړه ایتلافونه هم د هېواد په شاوخوا کې د یاد حالت پر وړاندې رامنځته شوي دي.

د ایتلافونو او دولت پر وړاندې محورونو جوړېدل ښیي چې خلک، قومي رهبران، متنفذین او حتی دولتي چارواکي په پراخه بڼه د امریکا له لاسپوڅي نظام څخه ناخوښ دي. له شک پرته په داسې حالت کې د ایتلافونو او د نظام د فساد او دیکتاتورۍ پر وړاندې محورونو جوړېدل په ښکاره یو ښه کار دی؛ خو په دې شرط چې سیاسي جریانونه په مشخص فکر، تعریف شوې طریقه او تدوین شوې برنامه، چې د اسلام له مبدا څخه اخیستل شوې وي، خپله سیاسي مبارزه پیل کړي.

له بل لوري، که د دغو ایتلافونو د تشکیل بهیر ته په ژوره توگه وکتل شي، داسې ښکاري چې د دغو ایتلافونو تشکیل یوه غیر مستقیمه لوبه ده، چې امریکایانو د افغانستان له سیاسي او قومي رهبرانو او متنفذینو سره یوځای پیل کړې ده؛ ځکه اوسنی گوډ او مات حالت چې له رهبرانو نیولې بیا تر وړو او لویانو ټول ترې ناخوښ دي، د امریکا له رضایت پرته له داسې حالت سره نه مخ کېده.

څنگه چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کېري د حکومت د تشکیل په لومړیو ورځو کې د ټاکنو شخړې د یو دوه سري حکومت په جوړېدو پای ته ورسولې، قصداً داسې هوډ نیول شوی چې له حکومت بېرون او دننه د شخړو رامنځته کېدو سبب شي. وروسته اشرف غني، چې د افغانستان د خلکو ژغورنکی ځان بولي، د امریکا په امر ورو ورو واک او قدرت انحصار کړ.

د غني لیدلوری دا دی چې د افغانستان ټول خلک په ځانگړي ډول قومي او سیاسي رهبران ټول فاسد دي او باید مالي او سیاسي سرچینې د هغوی په واک کې ورنه کړل شي. د همدې لپاره نوموړي قدرت په ارگ، ملي امنیت شورا، د چارو ادارې، د اداري اصلاحاتو کمیسون، ملي تدارکاتو ادارې او مالیې وزارت کې انحصار کړی دی او مالي شریانونه په یو ځانگړي جریان او لوړې څوکۍ په یو ځانگړي قشر پورې اړوندې کېږي. هغه کړنې چې له نورو ټیمونو څخه یو ځانگړي ټیم ته د فساد د لېږد او قدرت د تمرکز لامل شوې دي.

دغه حالت له دولت څخه د رهبرانو د ناخوښۍ لامل شو او هر یوه پخپل وار د ایتلافونو او سیاسي ډلو تشکیلونه پیل کړل، چې د قدرت انحصار مات کړي او خپله برخه له مالي او سیاسي پلوه پیدا کړي. همدا اوس د یادو ایتلافونو شمېر تر شپږو زیاتو ته رسېږي.

د دغو ایتلافونو تشکیل د یو ذهني او فزیکي مصروفیت حالت قومي او سیاسي رهبرانو ته رامنځته کړی؛ لکه څنگه چې ټول ورځ په خبرو اترو، د خلکو په راغونډولو، د محفلونو په جوړولو او ویناوو او داسې نورو مصروف کوونکو کارونو بوخت دي او دا دقیقا همغه څه دي چې امریکا یې غواړي. دا څه گټه لري چې د امریکا پلان د متنفذینو او د فکر او قدرت څښتنو خلکو په داسې کارونو او فعالیتونوکې د بوختیا لامل شي چې د خپل سر په پورته کولو، خپل مسیر روښانه کولو او په شته سیاسي تعاملونو کې د خپل ځای په سم ډول درک کولو ونه توانېږي.

د بوختیا دغه حالت د دې لامل شوی چې د سیاسي جریانونو رهبران چې لویه برخه یې پخواني مجاهدین تشکیلوي، د خپل تېر وخت پر تحلیل ونه توانېږي چې په تېر وخت کې کومو کسانو د کومو پروسو تر نومونو لاندې موږ له واکه لرې او کمزوي کړو؟ څنګه چې د هغه جزیات د زلمي خلیل زاد په «استازي» کتاب کې راغلي او له خپل راتلونکي څخه روښانه تصویر نه شي درلودی. همدارنګه دوی خپل راتلونکي سیاسي حالت ته پام نه شي کولی او له خپل ځای څخه سم تحلیل نه شي کولای.

د امریکا موخه د خپلو ستراتیژیکو موخو لپاره له افغانستان څخه ګټه اخیستل دي. نو لازمه ده چې دغه سیاست په ورځینو او موقتي شخړو کې د خلکو او رهبرانو د مصرفولو لپاره وي، چې دا رهبران د سیمې او نړۍ په کچه د امریکا د پالیسۍ لوی تصویر ونه شي لیدلی او همدارنکه د امریکا له لوري په جوړو شوو پېښو کې بوخت وي.

په ضمن کې د ډېرو ایتلافونو تشکیل د بې اتفاقۍ حالت رامنځته کوي او د رهبرانو او متنفذینو انرژي د ناوړه حالت بدلون لپاره وېشي. له بل لوري، د دولت منتقدو جریانونو وېش دا فرصت برابروي چې قومي او ژبنیو مسایلو ته په لمن وهلو سره د دغو ایتلافونو کمزوري کولو ته لار هواره کړي او پر رهبرانو د مفسد او جنګ سالار په ټاپو وهلو سره هغوی په خلکو کې نوم بدي کړي او له پامه یې وغورځوي.

بل خوا، په بې شمېره ایتلافونو د رهبرانو وېشل دا فرصت برابروي چې بهرني هېوادونه له سیاسي جریانونو سره د دولت له مخ کېدو څخه ګټه واخلي او په افغانستان کې د دوی د نیابتي جګړې پرمخ بېولو لپاره له هغوی نه د سرتېرو غوښتنه وکړي؛ له همدغه حالته امریکایان اندېښنه لري چې هسې نه دا سیاسي جریانونه د نورو هېوادونو له لوري د امریکا پر وړاندې ودرېږي.له همدې امله څه وخت وړاندې د جنوبي او مرکزي اسیا په چارو کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت معاونیت سرپرست الیس ولز او د افغانستان او پاکستان لپاره د ځانګړې نمایندګۍ سرپرست افغانستان ته سفر وکړ او د ملي وحدت دولت او د ایتلافونو له مشرانو سره په لیدو یې هڅه وکړه چې د ناخوښو کسانو او دولت تر منځ ملي سوله رامنځته کړي.

داسې ویل کېږي چې یو څو مخیزه طرحه په ګډه د سیاسي جریانونو له لوري الیس ولز ته سپارل شوې چې د دولت دننه یو لړ اصلاحات رامنځته کړي. له نښو داسې ښکاري چې د امریکایانو له لوري د حزبونو له مشرانو سره د اصلاحاتو راوړلو او جزیي بدلونونو لپاره ژمنه شوې او هغوی دغه شنه څراغ ته خوښ دي. په داسې حال کې چې په ځلونو د امریکایانو له لوري له افغان متنفذینو سره ژمنې شوې، دروغ وې او هیله ورته لرل تاریخي تېروتنه ده، چې په مخ کې فرصتونه له منځه وړي او سیاسي جریانونو کمزوري کوي.

باید ووایو چې د اوسنیو ایتلافونو ستونزه دا ده چې له اشرف غني، اتمر او ستانکزي سره ډغري وهي. له هغوی سره ډغرې وهل ګټه نه لري، ځکه غني، اتمر او نور په افغانستان کې د امریکا د ښکېلاک سمبولونه دي. هغوی د امریکا د پالیسو له پلي کولو پرته بل کار نه کوي. له هغوی سره ډغرې وهل افغان ایتلافونه او متنفذین ټوټه ټوټه کوي او له اصلي موخې او لوی تصویر لیدو څخه یې بې خبره کوي.

نو لازمه ده چې متنفذين او سياسي رهبران خپل ځای په خلکو کې وپېژني او په يو واحد صف کې له لوی شيطان (امريکا) سره چې د ټولو نقشو پلمه ده، مبارزه وکړي؛ د زړې امريکا د قدرت او شوکت تر اغېز لاندې نه شي او خپل ايمان له لاسه ورنه کړي. په دغه لاره کې الله سبحانه وتعالی له تاسو سره دی. يا به په دغه لاره کې برياليي کېږئ او يا به د شهادت جام څښئ او دا له اشغالگر او کفر سره په مبارزه کې څومره د مېړانې مرگ دی.

که داسې نه کوئ، نو د مالي سرچينو او سياسي قدرت لاسته راوړلو لپاره خپل ځانونه ذلت ته ورکړئ، په غاړو کې د غلامۍ ځنځيرونه واچوئ او د امريکا د نظم تابع شئ. هغه نظم چې شغالان پکې حکومت کوي او هلته د انساني او اسلامي ارزښتونو پر ځای، امريکايي استعمار ته د خدمت لپاره لومړی خبره کوي، ځکه امريکا د خپل استعمار پاليسۍ اړوندې خپلې گټې د ډلو په منځ کې وېشي. يو واک ته رسوي، بل ذليلوي او هر څوک چې ډېر خدمت ورته وکړي، هغه ته ډېره گټه ورکوي. اوس ټاکنه ستاسو ده چې پر اسلام منگولې لگوئ او د مبارزې لار خپلوئ او که شته نظم او ذلت ته غاړه ږدئ. قران هغو کسانو ته چې شريعت د خپلو افکارو، اعمالو او سياسي او فکري دريځونو معيار نه کوي، داسې خطاب کوي:

﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَىٰ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِي أَعْمَىٰ وَقَدْ كُنتُ بَصِيراً﴾

[طه:۱۲۴-۱۲۵]

ژباړه: څوک چې زما له ذکر (شريعت) څخه مخ واړوئ، هغه به تنگ او سخت ژوند ولري او د قيامت په ورځ به يې ړوند راپاڅوو. نوموړی به وايي: « اې پروردگاره! ولې دې ړوند حشر کړم، ما خو سترگې درلودې!؟

**مصدق سهاک**

**د حزب التحرير-ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر غړی**

**۲۰۱۷م، د اگېسټ ۱۶مه**